مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۰۲** (از ۴ الی ۱۱ دلو ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### د امریکایانو او روسانو نوې سړه جګړه

- یو-قطبیتوب پای ته رسېدلی! ........ ۴
- زاړه لوبغاړي؛ نوې لوبه او افغانستان ........ ۵
- په افغانستان کې د روسانو بیا دننه کېدل ........ ۵
- منځنۍ آسیا؛ د ۲۱مې پېړۍ د رقابتونو ډګر! ........ ۷

### سفر اوباما به هند؛ پیامی به کشورهای منطقه

- سفری با پیام‌های سمبولیک ........ ۹
- اهمیت این سفر برای دو کشور ........ ۱۰
- تقویت هند و توازن استراتژیک در منطقه ........ ۱۱
- تاثیر این سفر بر اوضاع منطقه ........ ۱۲

## مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې، د امریکا او روسیې ترمنځ د نوي پیلېدونکې سړې جګړې او په افغانستان کې د دغو دوو زبرځواکونو د مخ کېدو د احتمال او همداراز هند ته د امریکا د ولسمشر بارک اوباما د وروستي سفر په تړاو، د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د څېړنیزې څانګې شننې لولئ.

په دې وروستیو کې او بیا په نړیواله کچه د روسیې او امریکا ترمنځ په نړیوالو موضوعاتو کې د شخړو له پیدا کېدو وروسته، ځینې روسي شنونکو د دغو دوو زبرځواکونو ترمنځ د تودې جګړې د پېښېدو نظریه ورکړې؛ مګر د نړیوالو قضیو او د روسیې او امریکا وضعیت ته په کتو سره، د دوی ترمنځ د مخامخ جګړې پېښېدل ناشوني برېښي؛ د نظامي توازن ترڅنګ نور هم ډېر لاملونه شته چې دواړه هېوادونه به له مخامخ ټکر څخه ډډه وکړي، خو په نورو اشکالو د دوی ترمنځ د ټکر احتمال ډېر زیات دی. دا مهال ترډېره دا باور زیات دی، چې روسیه به په نورو هېوادونو او بېلابېلو ډګرونو کې له امریکا سره مخ کېږي او له دې جملې په افغانستان کې هم د دوی ترمنځ د ټکر احتمال زیات دی.

دا چې په افغانستان کې دننه کېدو لپاره د روسیې لېوالتیا ولې زیاته شوې؟ او په افغانستان کې د امریکا او روسې د ټکر څومره احتمال شته دی؟ همدا راز هند ته د ولسمشر اوباما سفر، د چین، پاکستان او افغانستان لپاره څه پیغامونه درلودل؟ هغه موضوعات دي، چې دلته یې د شننو تفصیل لولئ:

## د امریکایانو او روسانو نوې سړه جګړه



په نولسمه پېړۍ کې روسي امپراتورۍ د منځنۍ آسیا ډېری سیمې لاندې کړې، چې پولې یې په ۱۸۷۸ م کال کې د آمو تر سینده راورسېدلې. په بل اړخ کې، په هند کې انګرېزان واکمن وو، چې له همدې کبله دواړې امپراتورۍ په منځنۍ آسیا او افغانستان کې د سیالۍ ډګر ته ووتلې او د دوی دغه سیالي بیا د «لویې لوبې» په اصطلاح ونومول شوه.

په روسیه کې د لومړۍ نړیوالې جګړې په وروستیو کې، لېنن او ټرسټکي د کمونېزم انقلاب راووست. له همدې ځایه ځینې مؤرخین دغه پېښه (کمونستي انقلاب) له لوېدیځ سره د سړې جګړې پیل هم بولي؛ ځکه دغه انقلاب د غرب د رقیب او د غربي پانګوال نظام د یوه جدي رقیب په توګه راپورته شوی و، په همدې تړاو د روسیې انقلابي حکومت د امریکا د هغو پورونو له ورکولو، چې د روسیې تزاري امپراتورۍ له امریکا څخه اخیستي وو، انکار وکړ او امریکا هم د روسیې د همدې چلند او ځینې نورو لاملونو له کبله، د روسیې له نوي انقلابي حکومت سره د ۱۹۱۷ کال په ډسمبر میاشت کې اړیکې پرې کړې.

خو په ۱۹۲۹-۱۹۳۳ کلونو کې په امریکا کې د شلمې پېړۍ تر ټولو ستر اقتصادي بحران رامنځته شو، چې امریکا یې له اقتصادي پلوه سخته وځپله او دغه اقتصادي بحران ته بیا د "great depression" نوم هم ورکړل شو، ترڅنګ یې جاپان هم په سیمه کې د یوه ځواک په توګه سر راپورته کړی و او د امریکا ګټې یې له ګواښ سره مخ کړې وې؛ نو له همدې کبله د امریکا د هغه مهال ولسمشر "روزویلټ" د دې اړتیا احساس کړه، چې په ۱۹۳۳ کال کې د شوروي حکومت په رسمیت وپېژني، ترڅو له یوې خوا پرې د جاپان مخه ډب کړي او له بلې خوا په روسیه کې هم یو شمېر سوداګریزې ګټې ترلاسه کړي.

د امریکا او شوروي نوې جوړې شوې اړیکې، یو ځل بیا په ۱۹۳۹ کال کې د شوروي-نازي دفاعي او تعرض نه کولو (Non-aggression) د تړون له کبله زیانمنې شوې؛ خو کله چې د نازي جرمني هېټلر پر شوروي یرغل وکړ، نو شوروي هم د اتحادي ځواکونو په ائتلاف کې ورګډ شو. خو دغه اړیکې بیا هم لنډمهالې وې، ځکه دویمه نړیواله جګړه لا پای ته نه وه رسېدلې، چې سټالین له چرچیل او روزوېلټ سره د راتلونکي نړیوال نظام او د سیمو د وېش پر سر په بحثونو کې اختلافات پیدا کړل او بیا د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو سره، د دوی دغه اختلافات په رسمي توګه د سړې جګړې په نامه یاد شول. د دوی ترمنځ دغه سړه جګړه تر ۱۹۹۱ کال پورې روانه وه، چې نړېوال سیاست یې پر دوو قطبونو ووېشه.

## یو-قطبیتوب پای ته رسېدلی!

۱۹۷۹ کال، د سړې جګړې پرېکړهییز کال و، ځکه په دغه کال کې د کمونستانو له خوا د نړۍ په ډېرى هېوادونو کې د امریکا ګټې له ګواښ سره مخ شوې وې او ترڅنګ یې شوروي، چې د کمونیستي نظریې مور هېواد و، پر افغانستان یرغل راووړ. په دې توګه د امریکا بریزنیسکي او کارټر موقع وموندله، چې له شورویانو څخه د ویتنام پاتې غچ واخلي.

د افغان جهاد او له افغان مجاهدینو سره د نړیوالو ځواکونو د ملاتړ له کبله، بالاخره شوروي په افغانستان کې ماتې وخوړه او امپراتوري یې هم په ۱۹۹۱ کال کې ړنګه شوه. له دغې پېښې سره، سړه جګړه هم پای ته ورسېده او امریکا یکې د پوسټ-سړې-جګړې (له سړې جګړې وروسته) یوازېنی زبرځواک شو.

په ۲۰۰۱ کال کې چین او روسیې د امریکا د همدې یو قطبیتوب نظام پرخلاف د شانګهای سازمان جوړ کړ، خو تر ۲۰۰۸ کال پورې یې امریکا ونه ننګوله. چین او روسیې پر افغانستان امریکا د یرغل پرمهال د امریکا ملاتړ وکړ؛ خو دواړه بیا د عراق په جګړه کې متذبذب شول.

دغه حالت بالاخره په ۲۰۰۸ کال کې هغه مهال بدلون وموند، چې کله روسیې په جورجیا یرغل وکړ او په دې توګه یې په لومړي ځل د نړۍ یو قطبیتوب تر پوښتنې لاندې راووست او وروسته یې له چین سره یوځای، په ملګرو ملتونو کې د سوریې پرخلاف د لوېدیځ دوه سپانسر شوي قراردادونه هم ویټو کړل، چې یو یې د سوریې پرخلاف د اقتصادي بندیزونو په اړه و او بل یې هم پر سوریې د یرغل په تړاو و.

خو د اوکراین پېښو په دغه حقیقت مېخ ټک واهه، چې نړۍ نوره یوه قطبه نه ده او نه یکې امریکا د نړۍ یوازینی زبرځواک دی. د دې ترڅنګ روسیه له چین، هند، سوېلې افریقا او برازیل په شان اقتصادي ځواکونو سره هم په یوه

اقتصادي بلاک کې ننوتله، چې د بریکس په نامه یادیږي. دغه سازمان د نړیوال سیاست ډېرې نظامونه هم وګواښل؛ ځکه روسیه او چین د لویدیځ "آی ایم ایف" ته د شک په سترګه ګوري.

## زاړه لوبغاړي؛ نوې لوبه او افغانستان

د سوریې پرخلاف د قراردادونو له ویټو کولو سره او اوس بیا د اوکراین پېښې دا ثابتوي، چې نړۍ به په راتلونکې کې بیا هم د سړې جګړې په هماغه زاړه-ماډل رقابت کې اخته وي. روسیه به له چین سره وي، جاپان او لویدیځه اروپا به له امریکا سره تړلې وي، د لاتیني امریکا هېوادونه به د سړې جګړې په شان، د روسیې په لور میلان ولري او د دغو رقابتونو پرېکړه‌ییز ټکر به د منځنۍ آسیا په غني سیمو کې وي.

د افغانستان خیر به په طبیعي حالت پاتې کېدو کې وي، ترڅو د خپلو هغو ګاونډیانو په مقابل کې، چې په خپلو کې سره رقیبان دي، ناپېیلی واوسېږي. د بېلګې په توګه د هند او پاکستان، د چین او هند او همدا راز د امریکا او چین-روسیې ترمنځ باید په خپل بهرني سیاست کې توازن وساتي.

## په افغانستان کې د روسانو بیا دننه کېدل:

روسانو د سړې جګړې پر مهال په افغانستان کې داسې رول ولوباوه، چې هم یې دلته د جګړو لمبې اوچتې کړې او هم یې خپل ځان پرې وسوځاوه. افغانستان لا تراوسه د روسانو د اشغال له تباهۍ څخه نه دی رغېدلی او لاهم په دغه هېواد کې د شورویانو د تاړاک ډېرې داسې نښې لیدل کېږي، چې هېواد یې په بېلابېلو ډګرونو کې له ستونزو سره مخ کړی دی.

روسان په پای کې له لس کلن اوږده اشغال وروسته د حیرتانو له پله واوښتل او په دې توګه د شوروي پراخه شوې امپراتورۍ بېرته خپل ځای ته ورټوله او کوچنۍ شوه. روسانو د مجاهدینو د حکومت له راتګ سره د ایران په مرسته د یو شمېر جهادي ډلو مشران مسکو ته ور وبلل او بیا له هغه وروسته د مجاهدینو حکومت هغه روسي سرتېري، چې د جهاد پرمهال یې نیولي وو، پرېښودل. له همدې ځایه د مجاهدینو د حکومت او روسیې ترمنځ اړیکې، چې بنسټ یې د افغان جهاد پرمهال اېښودل شوی و، د رغېدو په لور ولاړې.

روسانو په لومړي سر کې افغانستان ته ډېره پاملرنه نه کوله؛ خو وروسته چې کله د افغانستان په سیاسي تیاتر طالبان راڅرګند شول، له روسیې سره دا وېره پیدا شوه، چې هسې نه په منځنۍ آسیا کې افراطیت او د مخدره موادو خپرېدنه زیاته شي، له همدې کبله دوی د هند او ایران ترڅنګ له شمالي ټلوالې (احمد شاه مسعود او استاد رباني) څخه قوي ملاتړ وکړ.

کله چې روسیې د طالبانو د امارت پرمهال له شمالي ټلوالې څخه ملاتړ کاوه، نو طالبان اړ شول، چې د ازبکستان د اسلامي غورځنګ مشر طاهر یلداش او د ده ملګرو ته پناه ورکړي او وروسته بیا په ۲۰۰۰ کال کې نه یوازې دا چې د بوسنیا حکومت په رسمیت وپېژني، بلکې په کابل کې ورته د سفارت خلاصولو اجازه هم ورکړي.

د طالبانو د دغه ځوابي غبرګون له کبله روسیه هم اړ شوه، چې له طالبانو سره خبرو اترو ته کښېني. په پای کې د روسیې په استازیتوب ضمیر کابلوف د طالبانو له استازوسره خبرې اترې پیل کړې، چې په دې خبرو کې روسانو ومنله، چې نور به له شمالي ټلوالې ملاتړ نه کوي؛ خو د وحید مژده په اند، چې هغه مهال د افغانستان په بهرنیو چارو وزارت کې د منځني ختیځ د سیاسي میز مدیر و، طالبانو له روسیې سره د خبرو اترو دغه ډیپلوماتیک فرصت ضائع کړ.[1]

د سپټمبر د یولسم له پېښې وروسته روسیې هم د چین ترڅنګ، د دریو لاملونو له کبله د امریکایي یرغل ملاتړ وکړ:

**لومړی:** دواړو هېوادونو وېره درلوده، چې هسې نه په منځنۍ آسیا او د چین په سینکیانک ایالت کې افراطیت زیات شي؛ ځکه د طالبانو د واکمنۍ پرمهال ډېری داسې سخت دریځې ډلې په افغانستان کې مېشتې وې، چې له سینکیاک ایالت او د منځنۍ آسیا له هېوادونو سره یې تړاو درلود؛

**دویم:** دوی د مخدره موادو خپرېدنه له طالبانو سره تړلې بلله؛ په داسې حال کې چې چین او روسیې د مخدره موادو ډېر روږدي درلودل او د زیاتو تلفاتو ترڅنګ یې د ملي بودیجې یوه اندازه پیسې هم په هغوی مصرفېدلې. د دې ترڅنګ دوی ګومان کاوه، چې د مخدره موادو له قاچاق څخه سخت دریځې ډلې ګټه پورته کوي؛

**درېیم:** د یولسم سپټمبر پېښې ډېری د امریکا په څنګ کې درولي وو، ځکه د نړۍ عامه رایه هم له امریکا سره په همدردۍ کې وه. د دې ترڅنګ امریکا د نړۍ یوازینی زبرځواک و، چې په ټولیز ډول د همدغو لاملونو له مخې روسیه او چین هم له امریکا سره ودرېدل.

دا چې له روسیې سره د افغانستان اړیکې یو ځل بیا څرنګه راتودې شوې، ټول ځوابونه یې په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو کې دي. په ۲۰۰۸ کال کې بارک اوباما د ټاکنو له لارې د امریکا ولسمشر شو او په ۲۰۰۹ کال کې په افغانستان کې

[1] - ولولئ: د وحید مژده کتاب، افغانستان و پنج سال سلطۀ طالبان.

ټاکنې وشوې، چې د درغلیو له جنجالونو وروسته حامد کرزی د ولسمشر په توګه بریالی راووت. په دغو ټاکنو کې د امریکا له خوا ډېرې لاسوهنې وشوې، چې جزیات یې د رابرټ ګېټس او د کای آیډه په کتابونو کې شته دي. د اوباما او ریچارډ هالبروک دغو لاسوهنو د حامد کرزي سیاست ته تغییر ورکړ او په همدې تړاو ده د روسیې د مېدوېدوف په نوم یو لیک واستاوه او بیا وروسته یې چین او مسکو ته سفرونه هم وکړل. له همدغه ۲۰۰۹ کال وروسته په افغانستان کې د روسیې لېوالتیا مخ په زیاتېدو شوه او افغانستان ته یې هغه پورونه، چې کمونستي رژیم له شوروي څخه اخیستي وو، معاف کړل[2].

دا چې روسانو د افغانستان ارزښت حس کړی، په همدې موخه یې افغانستان ته خپل نوی سفیر، الکساندر منتسکي، راواستاوه، چې په ۱۹۸۴ کال کې د شوروي په بهرنیو چارو وزارت کې ډیپلومات و او وروسته د سویلي آسیا په هېوادونو؛ لکه پاکستان، هند او نیپال کې هم سفیر پاتې شوی دی. ده له  خپل راتګ سره سم وویل، چې روسیه غواړي خپلې نیمګړې پاتې شوې پروژې بیا پیل کړي.

## منځنۍ آسیا؛ د ۲۱مې پېړۍ د رقابتونو ډګر!

د مشهور امریکایي څېړونکي جوسیف نای په اند، چې د "نرم ځواک" اصطلاح کاروونکی هم دی، په یوویشتمه پېړۍ کې به ځواک له امریکا او غرب څخه د آسیا په لور ولاړ شي. دی دغه خبره د خپل ذوق له مخې نه کوي، بلکې په دې اړه د آسیایي هېوادونو اقتصادي ارقام د ده په خبره د حقیقت پرده غوړوي، چې په ریښتیا هم د نړۍ اقتصادي ځواک آسیا ته راروان دی.

د ډېری نړیوالو څېړونکو له نظره به، په راتلونکې نړۍ کې د آسیا شپږ هېوادونه (چین، هند، روسیه، جاپان، ترکیه او د خلیج هېوادونه) مهم رول ولوبوي. دوی ټول تر ډېره له یو بل سره هم اختلافات لري او ځینې یې (لکه هند او جاپان) د همدغو خپلمنځي رقابتونو له کبله امریکا او لوېدیځ ته هم ډېر نېژدې دي.

د دې ترڅنګ به د منځنۍ اسیا سیمه، چې روسیه، چین، ایران، او اروپا ورسره سرحد لري او په دې سیمه کې د نړۍ د ډېری هېوادونو ګټې هم نغښتې دي، د راروانو وختونو د رقابتونو ډګر وګرځي. دا چې دغه سیمه به ولې د نړیوالو رقابتونو

[2] - که څه هم دا د ډېر بحث وړ موضوع ده، چې آیا ریښتیا هم دغو پورونو په افغان ملت او افغان حکومت پورې تړاو درلود کنه؟ ځکه هغه مهال افغان ملت نه یوازې دا چې له کمونیستي رژیم سره په جګړه بوخت و، بلکې له شورویانو سره هم چې هېواد یې اشغال کړی و، په جګړه بوخت و. د شورویانو له دغو ۱۲ ملیاردو ډالرو پورونو څخه زیات، بالعکس هغوی زموږ پوروړي وو، ځکه د دوی جګړې د دغه وطن دوه ملیونه بچیان اخېستي وو، ډېرې سیمې یې ورانې کړې وې، اقتصاد یې صفر ته راښکته کړی و او نور ډېر څه...

ډگر گرځي، لامل يې د دغې سيمې غني طبيعي زېرمې، د نړۍ د اقتصادي ځواکونو د انرژۍ لوړېدونکې تقاضا او په نړۍ کې د دغې سيمې ستراتېژيک موقعيت دی، چې نوميالي برېتانوي جغرافيه‌پوه ميکلبنډر يې ارزښت سل کلونه وړاندې په خپله نظريه کې داسې بيان کړی و، چې څوک که په دې سيمه واکمن وي، نو په نړۍ به واکمن وي.

په ۱۹۹۸ کال کې د امريکا نوميالي ستراتيژي پوه برېژنيسکي هم په دې اړه يو کتاب ليکلی او امريکا ته يې پکې مشوره ورکړې، چې د امريکا د نړيوال حيثيت د ساتنې لپاره اړينه ده، چې امريکا په دغو سيمو کې خپلې ګټې خوندي کړي.

# سفر اوباما به هند؛ پیامی به کشورهای منطقه



روز دوشنبه ۲۶ جنوری کشور هندوستان ۶۶ مین سالروز دیموکراسی خود را جشن گرفت. آنچه که این روز را از گذشته متمایز ساخته بود، حضور باراک اوباما رئیس جمهور امریکا به عنوان مهمان خاص این جشن بود. اوباما و همسرش برای یک سفر سه روزه عازم هندوستان شدند.

اوباما نخستین رئیس جمهور امریکا بود که در این جشن در کشوری که بزرگترین دیموکراسی دنیا خوانده می‌شود، شرکت کرد. نارندرا مودی صدراعظم هند در میدان هوایی از اوباما استقبال نمود که کاری بی‌سابقه بود. اوباما سپس به قصر ریاست جمهوری هند رفت و در حضور پراناب مکرجی رئیس جمهور هند، مراسم رسمی استقبال از وی به عمل آمد.

مراسم این جشن، پرشکوه و پرزرق وبرق بود و در آن پیشرفت‌های هند در بخش‌های مختلف علم و صنعت به نمایش درآمد که واقعا همانگونه که شبکه‌های متعدد تلویزیونی هند در پخش مستقیم خویش آنرا نمایش قدرت هندوستان به جهانیان خواندند، نماد قدرت این کشور بزرگ آسیایی در بخش‌های مختلف بود.

## سفری با پیام‌های سمبولیک:

به نوشتهٔ لاس آنجلس تایمز، نکتهٔ مهم سفر اوباما شرکت در یک اجلاس جهانی یا تبادل نظر و گفتگو در مورد یک موضوع خاص نبود، بلکه این سفر طوری برنامه‌ریزی شده بود تا اوباما فرصت کافی برای دیدار دوستانه با نارندرا مودی صدراعظم هند داشته باشد.

سفر اوباما به هندوستان را از چند نقطهٔ نظر می‌توان یک سفری با پیام‌های سمبولیک دانست که مخصوصا در پاکستان به خوبی احساس شد. نخست اینکه اوباما با شرکت در جشن دیموکراسی هند، با مسئلهٔ کشمیر از دیدگاه پاکستان مخالفت کرد. کشمیری‌ها که برای آزادی این منطقه از سلطهٔ هند، مبارزه می‌کنند و از حمایت پاکستان برخوردار اند، همه‌ساله روز دیموکراسی در هند را به عنوان «روز سیاه» استقبال کرده‌اند که امسال نیز چنین کردند.

پیام سمبولیک دیگر در این سفر، اقامت رئیس جمهور اوباما و همسرش در هوتل تاج محل بود. این هوتل که در سال ۲۰۰۸ از سوی لشکر طیبه هدف حمله قرار گرفت، اکنون به نماد دخالت پاکستان در هند تبدیل شده است و پیام بسیار روشنی برای پاکستان دارد. انتخاب این هوتل برای اقامت اوباما و همسرش، به معنای این است که دیگر سیاست‌های منفی و صدور تروریزم پاکستان در منطقه، برای ایالات متحدهٔ امریکا قابل قبول نیست.

## اهمیت این سفر برای دو کشور:

این سفر تنها یک سفر سمبولیک نیست، بلکه هم برای ایالات متحدهٔ امریکا و هم هندوستان از نظر عملی نیز از اهمیت زیادی برخوردار است. دو هفته قبل، رئیس جمهور اوباما وزیر خارجه جان کری را به منظور آماده ساختن مقدمات این سفر به دهلی جدید فرستاد که نشان از اهمیت سفر برای هر دو کشور دارد.

اوباما در کنفرانس مطبوعاتی مشترک با صدراعظم هند که چند ساعت بعد از ورودش به دهلی جدید برگزار گردید، از چشم‌انداز جدید همکاری میان امریکا و هند سخن گفت؛ وی گفت که من و صدراعظم هند در جهت گسترش همکاری‌های دفاعی و امنیتی به توافق دست یافتیم. دو کشور هند و امریکا به پیشرفت‌های چشمگیری در عرصهٔ همکاری‌های هستوی غیرنظامی دست یافته‌اند و این گام مهم، نمایانگر این حقیقت است که ما می‌توانیم در ارتقای روابط فیمابین همکاری کنیم.

نارندرا مودی صدراعظم هند نیز توافق همکاری‌های هستوی در عرصهٔ غیرنظامی میان دو کشور را نمایانگر ارتقای روابط و اعتماد میان دو کشور و فرصت مناسبی برای گسترش روابط اقتصادی میان هند و امریکا خواند و گفت که روابط میان دو کشور وارد مرحلهٔ جدیدی شده است. مذاکرات اوباما با مقامات هندی به شکست یک بن‌بست بسیار مهم در حوزهٔ امنیت هستوی میان دو کشور منجر گردید که قدم بسیار مهمی در جهت همکاری‌های استراتژیک محسوب می‌گردد.

در این سفر روی مسایل دیگری از جمله کاهش گازهای گل‌خانه‌ای نیز صحبت شد. هندوستان سومین کشور تولید کنندهٔ گازهای گل‌خانه‌ای در جهان است، اما رهبران هند تاکنون خود را به کاستن از میزان این گازهای مضر متعهد ندانسته‌اند، زیرا برای رهبران هندوستان کاهش فقر از راه رشد اقتصادی در صدر اولویت سیاست‌های این کشور قرار دارد.

## تقویت هند و توازن استراتژیک در منطقه:

اما در عقب همهٔ این صحبت‌ها، لبخندها و دست فشردن‌ها هدفی بزرگی نهفته است و آن هدف، برنامهٔ امریکا در برای ماندن در مقام رهبری جهان است. امریکا برای اینکه بتواند در این مقام باقی بماند، باید جلو همه چالش‌های بالقوه را که در آینده می‌تواند به چالش‌های بالفعل در برابر رسیدن به این هدف مبدل گردد، بگیرد. امریکا از قبل تصمیم به مقابله با چالش‌ها داشت، اما به دلیل مشکلات خاور میانه و به میان آمدن گروه دولت اسلامی در عراق و سوریه و وقایع اوکراین، گام‌هایی که باید در این راه برداشته می‌شد، به تعویق انداخت.

توازن استراتژیک را می‌توان عنوان دیپلوماتیک برای مهار بلند پروازی‌های چین دانست و تاکید اوباما به تعامل با آسیا با هدف تقویت روابط تجارتی با هند، با چنین هدفی صورت می‌گیرد. اوباما قصد دارد در دو سال باقی ریاست جمهوری خویش، اولویت‌های ایالات متحده در عرصه‌های اقتصادی، نظامی و سیاسی را که به دلیل وقایع غیرمترقبه به تعویق افتاده بود، جامهٔ عمل بپوشاند.

چین علاقه‌ای به دخالت نظامی در بحران‌های جهان ندارد و ترجیح می‌دهد تا همچنان به توسعهٔ اقتصادی خود توجه داشته باشد. همکاری میان هندوستان و امریکا در زمینه‌های اقتصادی، می‌تواند به این قدرت در حال رشد در آسیا را کمک کند تا در بازارهای چین در کشورهای دیگر نفوذ نموده، با چین به رقابت بپردازد که این کار می‌تواند از توسعهٔ اقتصادی چین بکاهد.

به عبارهٔ دیگر می‌توان گفت که بازی آسیایی امریکا، به صورت جدی از این سفر نامتعارف و بی‌سابقه آغاز شده است که مهار چین در صدر برنامه‌هایش قرار دارد. زیرا چین دارای امکانات و ظرفیت‌هایی است که می‌تواند خلای وجود اتحاد شوروی را که در دوران جنگ سرد موجب ایجاد توازن استراتژیک در جهان شده بود، پر کند. وسعت خاک و جمعیت چین، بازار گسترده همراه با رشد اقتصادی، عضویت در شورای امنیت و قدرت نظامی، نشان از توانمندی‌های چین برای ایجاد توازن استراتژیک در برابر تمامیت‌خواهی‌های امریکا دارد.

زمامداران و نخبه‌ها در چین به این باور اند که حضور نظامی امنیتی امریکا در آسیا و اقیانوس آرام به هر بهانه‌ای، یک هدف مهم را دنبال می‌کند و آن مهار چین است؛ زیرا از نظر چین، نظام بین‌المللی مطلوب نظام چندقطبی است و این نظر با نظام بین‌المللی نفوذ روز افزون چین بر نهادهای منطقوی شرق آسیا این نگرانی را برای امریکا به میان آورده که در صورت تسلط چین بر این نهادها، ممکن است این کشورها توسط چین به مسیری خلاف منافع امریکا سوق داده شوند.

## تاثیر این سفر بر اوضاع منطقه:

سفر اوباما می‌تواند تنش‌های منطقوی به خصوص میان هند و پاکستان را افزایش دهد. خواست امریکا از پاکستان برای مهار تروریزم و جلوگیری از بازی‌های دوگانه، بارها مطرح شده و بی‌نتیجه بوده است. پاکستانی‌ها دریافته‌اند که در بازی بزرگ امریکا در آسیا، این هندوستان است که مورد توجه امریکا می‌باشد.

پس عجیب نیست اگر زمامداران پاکستان این سفر را با نگرانی دنبال نماید و همزمان با سفر اوباما به هند، راحیل شریف لوی درستیز نیروهای پاکستانی به چین سفر کرده با مقامات نظامی چین دیدار نماید. پاکستانی‌ها در عکس العمل به سفر اوباما به دهلی جدید، خواستند به امریکا خاطر نشان سازند که آنها هم گزینهٔ دوستی با چین را در اختیار دارند.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)